دَ نعتونو ، حمدونو وومه (7) مجموعه

# حمدونه او نعتونه

تصنیف


## مولانا احمدعلي مرداني

ساکن یونیورسټی روډ خوره بانډه مردان



ناشر

اسلامي ادبي ټولنه مردان

0312-9818511


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمٰن الرحیم

## حمد باری تعالیٰ

لاشریکه ذات دَ چا دے
یو الله دے، یَو الله دے

لَمْ یَلِدْ او لَمْ یُولَدْ دے
مددګار دَ نیك او بد دے

وایه خوك مشکل کشا دے
یو الله دے، یَو الله دے

شته خبر دے له هر چا نه
هغه ذات ډیر مهربانه

هر طرف تَه دے هر خوا دے
یو الله دے، یَو الله دے

دَ هر څیز خالق هغه یَو
دَ مخلوق رازق هغه یَو

دا ایمان ښکاره زما دے
یو الله دے، یَو الله دے

دَ سکون مالك زمونږه
دَ ژوندون مالك زمونږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رهنما دے، مقتدا دے
یو الله دے، یو الله دے
دَ شاهانو شاه دُنیا کښې
ورته لاس نیوم دُعا کښې
دَ احمدعلی رب دا دے
یو الله دے، یو الله دے

## حمدباری تعالیٰ

در دَ پاك الله پریږدے نو چرته ځے
در دَ نور رنا پریږدے نو چرته ځے
نشته دے بل دربس دغه یو دے در
نشته دے خپل دربس دغه یو دے در
در دَ حق مولا پریږدے نو چرته ځے
در دَ پاك الله پریږدے نو چرته ځے
نشته دے امان چي دغه در نه وی
یا به یو طرف ته هم سحر نه وی
در دَ لوئي باچا پریږدے نو چرته ځے
در دَ پاك الله پریږدے نو چرته ځے
نۀ به وی غمونه ستا په لاره کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی به رحمتونه ستا په لاره کښې

در داسې اعلا پرېږدې نو چرته ځې

در دَ پاك اللّه پرېږدې نو چرته ځې

در دا د جنت دے کۀ پوهیږې تۀ

در دَ هر عزت دے کۀ پوهیږې تۀ

در دا په دُنیا پرېږدې نو چرته ځې

در دَ پاك اللّه پرېږدې نو چرته ځې

ټول يُو غلامان ددغې در مونږه

ټول يُو بندګان دَ دغې در مونږه

در دَ خپل خير خوا پرېږدې نو چرته ځې

در دَ پاك اللّه پرېږدې نو چرته ځې

ټول ورته محتاج دی انبیاء دلته

ټول ورته محتاج دی اولیاء دلته

ځائې مشکل کشا پرېږدې نو چرته ځې

در دَ پاك اللّه پرېږدې نو چرته ځې

در دغه احمده! دَ فلاح زمونږ

ورسره سکون تل دَ دَ ارواح زمونږ

در داسې بالا پرېږدې نو چرته ځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



در دَپـــاك الـــلّـــه پـــريـــږدے نـــو چـــرتـــه ځـــے

## حمد باري تعالىٰ

دا چــي هــرڅـــهٔ پـــه دُنيـا دي رڼـــه ستـا دي
کـــهٔ ادنـــىٰ دي کـــهٔ اعـلا دي رڼـــه ستـا دي

اســمـــانــونـــه بـــره لـوئـــي لـوئـــي دَ جـهـــان
دا چـــي نـــور هـــرڅـــهٔ پيـدا دي رڼـــه! ستـا دي

دَ سپـوږمـي ښـکـلـي صـورت پـاس پـه اسـمـان
ورســـره ستـــوري رڼـــا دي رڼـــه! ستـــا دي

ورځـــي شپـــي دَ کـــائـنـــات هـــريـــو ســاعـت
دلیـــلـــونـــه ښـــهٔ صـفـا دي رڼـــه! ستـــا دي

مـوسـمـونـه خـائـسـتـه ښـکـلي رنګ پـه رنګ
ټـول پـــه جـمـع دوی ګـويـا دي رڼـــه! ستـا دي

دا پـــه زمـکـــه ســلـســلـــي دَلـويـو غـــرونـو
دا چـــي هـــرڅـــهٔ پـــه هـرخوا دي رڼـــه! ستـا دي

زهٔ هـــم ستـــايـــم دا مـــردان زمـــا داکـــلـــي
پـــه ښـکـاره چـــي څـــهٔ زمـا دي رڼـــه! ستـا دي

★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حمد باري تعالیٰ

نــهٔ مــنــمــه بــل الــه هــغــه نــه مــاسـوا
چــا چــي پيــدا کــړي مــونــږ لــه زمکــه دَدُنيــا
زهٔ هــغــه مــعبــود مــنــمــه، زهٔ هــغــه مسـجــود
دَ هــر چــا دَ پـــاره هــغـــه ذات مشــکــل کشــا
زهٔ هــغــهٔ خــالــق مــنــمــه، زهٔ هــغــهٔ رازق
هــغــه دَدُنيــا دَ خــلــقــو ټــولــو رهــنــمــا
هــغــه رالیــږی لــه اسـمــانــه کتــابونــه دی
دَ هــرچـــا دَ پـــاره وی پـــه خپــل مــقــام رنــا
هغــه پيــدا کــړی اسمــانــونــه ښکلــی ښکلــی دی
اوګـــوره پـــه غـــور ســـره نــظــر دي کــړه بـــالا
هــغــه يــو مــالك زمــونــږه اے احــمــده! تــل
زړونــو لــره ســکــون هــغــه دے، زړونــو لــه دوا

# حمد باري تعالیٰ

ذکــر پــه شــوق چــي دَ اللــه کوُو، کــاميــابــه بــه يوُ
سوال چــي لــه خپــل خالــق مولا کوُو، کاميابه بــه يوُ
داسـي دا در دے هــر مــالــدار ورتــه محتــاجــه دي هــم
داسـي دا در دے هــر ســردار ورتــه مــحتــاجــه دي هــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال چې له هغې دریابیا کوو، کامیابه به یو
سوال چې له خپل خالق مولا کوو، کامیابه به یو

هغه غني دے دَ هر خَة دَ خزانو مالك دے
دَ هر یو قوم دَ قبیلې دَ پښتنو مالك دے
له داسې در چې التجا کوو، کامیابه به یو
سوال چې له خپل خالق مولا کوو، کامیابه به یو

زمکه، اسمان دَ هغې ذات دَ سلطنت حصه ده
دا ټول جهان دَ هغې ذات د حکومت حصه ده
له هغې ذات نه چې دُعا کوو، کامیابه به یو
سوال چې له خپل خالق مولا کوو، کامیابه به یو

ورته رکوع مدام سجده کوم احمدعلی زهٔ
ښهٔ په ادب ئې تذکره کوم احمدعلی زهٔ
کار چې مدام ئې دَ رضا کوو، کامیابه به یو
سوال چې له خپل خالق مولا کوو، کامیابه به یو

## حمد باری تعالیٰ

زهٔ بنده وایه دَ چا یم
نور دَ چا یم، دَ الله یم
چې زما حاجت روا دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زما مشکل کشا دے
پیروکار دَ خپل مولا یم
نور دَ چا یم، دَ الله یم

ماته ګوری ښهٔ خبر دے
په هر څهٔ ئي ښه نظر دے
طلبګار ئي دَ رضا یم
نور دَ چا یم، دَ الله یم

یو خالق،رازق دَ ټولو
دا سبق ښه دے یادولو
حقیقت نه کهٔ اشنا یم
نور دَ چا یم، دَ الله یم

مالك هم دَ لوح قلم دے
د عرب هم دَ عجم دے
رب باقی دے، زهٔ فنا یم
نور دَ چا یم، دَ الله یم

یو په ذات په خپل وجود دے
نه والد دے نه مولود دے
زهٔ احمد ګویا صفا یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــــورډ چـــــــا يـــــم ، ډ الـــــلـــــــــه يـــــم

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تــولـــو انبيـــاؤ کښـــي زمــونـــږه اعــلا نبـــی ﷺ
هغــه مـصـطـفیٰ نبی ﷺ، هغـه مجتبیٰ نبی ﷺ

نـــه رســی جـمـــال تـــه ئـي يـو بشـــر ددي جهـــان
نـــه رســی جـمـــال تـــه ئـي مـلائك ډ پــاس اسـمــان
داســـي پـــه نبيـــانـو کښـــي سيـد الـوریٰ نبـــی ﷺ
هغــه مـصـطـفیٰ نبی ﷺ، هغـه مجتبیٰ نبی ﷺ

ختـــم نبـــوت پـــه دوی ، صـــادق او امـيـــن هـغـــه
داســـي عــقـيــده لـــرم ، غـــوره بهتـــريـــن هـغـــه
هـــر صـــفـــت ســـر هـــکـــامــل بــره ښــة بـــالا نبـــی ﷺ
هغــه مـصـطـفیٰ نبی ﷺ، هغـه مجتبیٰ نبی ﷺ

زلـــفـــي ئـــي والـيـــل پـــوره ، يــادي پـــه قـرآن کښـــي دی
ښـــکـــلـي ډيري ښکلي دا ، ښکلي په جهان کښـي دی
يـــل پـــه هـــر صـــفـــت ســـره دلـتـــه کښـــي پيدا نبـــی ﷺ
هغــه مـصـطـفیٰ نبی ﷺ، هغـه مجتبیٰ نبی ﷺ

شـپـــه کښـــي ډ مـعـــراج بـــره تـــلـــي پـــاك الـلـــه لـره
شـپـــه کښـــي ډ مـعـــراج نبـــی ﷺ تـــلـي حق مولا لـره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوست دَ پاك اللّٰه نبی ﷺ، نور نبی ﷺ رنا نبی ﷺ
هغه مصطفیٰ نبی ﷺ، هغه مجتبیٰ نبی ﷺ
زۀ احمد ئي نعت ليکم، زۀ ئي اُمتی يمه
زۀ ئي په سنتو کښي هرخوا مقتدی يمه
هغه رهنما نبی ﷺ، هغه مقتدا نبی ﷺ
هغه مصطفیٰ نبی ﷺ، هغه مجتبیٰ نبی ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سم لکه ګين شيرين صفت حسين ګفتار دے
واه واه داسي محمد خير الابرار ﷺ دے
هر يوه ادا ئي دُنيا سم ملغلره ده
سم حسين لعلونه په دُنيا ئي هر خبره ده
داسي رهنما زمونږه هغه حسندار دے
واه واه داسي محمد خير الابرار ﷺ دے
هر يوه ادا ئي په سنت سره ياديږی نن
هر يوه ادا ئي شريعت سره ياديږی نن
نور دغه ښور شوے هر طرف ته په هر لار دے
واه واه داسي محمد خير الابرار ﷺ دے
دوی سره ظلمت دَ ګمراهی تلے دُنيا نه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی سره نفرت لـه زندګي تلـے دُنیا نـه دے
داسې په نبیانو کښې عظیم صفت سردار دے
واه واه داسې محمد خیر الابرار ﷺ دے

دوی سره عام شوے ښه اخلاق کلو کوخو کښې دے
نور دغـه احمده ! دَ قرآن پـه سپارو کښې دے
ختم نبوت ورسره وایمه په جار دے
واه واه داسې محمد خیر الابرار ﷺ دے

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

په محمد رسول اللّٰه ﷺ چې څوك ایمان نهٔ لري
اګاه دي وی دَ محشر هغه هیڅ سامان نهٔ لري

جنت کـهٔ غواړے دَ جنت هم ذریعه دغه ده
رحمت کهٔ غواړے دَ رحمت حق وسیله دغه ده
مینه چې زړه کښې دَ نبیانو دَ سلطان ﷺ نهٔ لري
اګاه دي وی دَ محشر هغه هیڅ سامان نهٔ لري

پـه دي به ستا نه ربّ مولا هم رضا کیږي واؤره
منزل به تاته په دُنیا کښې اسانیږي واؤره
بېتعلق چې په دُنیا کښې یو انسان نهٔ لري
اګاه دي وی دَ محشر هغه هیڅ سامان نهٔ لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ذریعه دَ هر بشر دَ کامیابي دَ پاره
دا وسیله دَ لراو بردَ کامیابي دَ پاره
حق وسیله چي په دُنیا یو مسلمان نۀ لري
آګاه دي وي دَ محشر هغه هیڅ سامان نۀ لري

په دي ایمان لرم احمد زه دَ مردان دلته کښي
په جار زما ټولو ته دغه دے اعلان دلته کښي
هغه چي دلته کښي ایمان په حق بیان نۀ لري
آګاه دي وي دَ محشر هغه هیڅ سامان نۀ لري

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دوست دَ حق اَلله خبیر دے
لاثاني دے بې نظیر دے
دَ مخلوق ټولو بادچا دے
خو دَ یو اَلله فقیر دے

په سیرت صورت کامل دے
بهترین په هر تصویر دے
هر ادا ئي نوراني ده
ښۀ اعلا ئي هر تدبیر دے
نبوت په دوی تمام دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخيري په دي لكير دے

مداح خوان ئي زۀ احمد يم

مدح خوان ئي رب بصير دے

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ

ثنا خوان دَ مصطفىٰ ﷺ يم

مدح خوان دَ خپل آقا ﷺ يم

چي ئي مدحه پاك الله كړي

چي ئي مدحه دا دُنيا كړي

زۀ په هغي ذات فدا يم

ثنا خوان دَ مصطفىٰ ﷺ يم

دغه مدحه كښي ثواب دے

دا سكون دَ هر يو باب دے

وظيفه كوُم لګيا يم

ثنا خوان دَ مصطفىٰ ﷺ يم

ثابت دغه له قرآن نه

دا كوه اے مسلمانه !

زۀ صادقه په وينا يم

ثنا خوان دَ مصطفىٰ ﷺ يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمــــا زړهٔ زمـــــا جـــــانــــان ﷺ دے
د احـــــمـــــد دغــــــه بيـــــان دے
مستــــحــــق دَ بنــــــهٔ جــــزا يـــم
ثـــنـــاخـــوان دَ مــــصــــطــــفــىٰ ﷺ يــــم

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ (ختمِ نبوت)

خـاتـم پـه مرسلانو کښـي زمونـږه نبی ﷺ دے
پــــه دي زمـــا ايـــمـــان دے، خبـــر دا قـــوی دے
يـــاد شـوے پـــه لـقــب ســره خـاتـم النبيـن ﷺ
لازم پـــــه دي خبـــره هــــر بشـــر لـــره يــقيــن
صـفـت دَ محـمـد رسـول اللّـه ﷺ مدنی ﷺ دے
خـاتـم پـه مرسلانو کښـي زمونـږه نبی ﷺ دے
ثــابــت دا لـــه قــرآن نـــه عـقيـده زمـاده کـلـکـه
شك مـهٔ کـوه پـه دي کښـي عـقيده دغـه بي شکـه
اعـلان دغــه واضــحــه بــه ښـکـاره دَ وحی دے
خـاتـم پـه مرسلانو کښـي زمونـږه نبی ﷺ دے
ثـــابـــت لــــه احـــاديثـــو مـــعتبـــرو دا خبـــره
ثـــابـــت لــــه احـــاديثـــو مـــلـــغـــلـــرو دا خبـــره
لــری پـــه دي ايــمـان چي، هغـه پوخ جـنـتـی دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاتم په مرسلانو کښې زمونږه نبي ﷺ دے

احمدعلی په دې خبره کلك ساتی یقین
په دغې عقیده به وی مدام انسان حسین
په دغې عقیدې سره ښکلې هر ولی دے
خاتم په مرسلانو کښې زمونږه نبي ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زړهٔ کښې چې مینه دَ نبیانو دَ سلطان ﷺ نه لري
داسې شوه هغه چې په زړهٔ کښې اطمینان نه لري

مینه لازم ده چې وی دا دَ هر انسان په زړهٔ کښې
مینه لازم ده چې وی دا دَ مسلمان په زړهٔ کښې
خو چې دا مینه یو بشر او یو انسان نه لري
داسې شوه هغه چې په زړهٔ کښې اطمینان نه لري

مینه باعث دَ اتحاد دَ ورورولي سبب دے
مینه هر خواته دَ هر چا دَ کامیابي سبب دے
خو چې دا مینه دا ښکلا کله یو ځوان نه لري
داسې شوه هغه چې په زړهٔ کښې اطمینان نه لري

مینه یو نور دے یو رڼا دَ هر مکان دَ پاره
که رڼا غواړې دا رڼا ده مسلمان دَ پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو چې دا مينه نۀ لرې نو هيڅ څه شان نه لرې
داسې شوه هغه چې په زړۀ کښې اطمينان نه لرې
ورته نه قُرب نه نزديکت دَ پاك اللّه ملاؤوي
احمده ! نه ورته نۀ ورته ښکلا دَ دې دُنيا ملاؤ وي
خو چې دا مينه نه لرې قُرب دَ رحمان نه لرې
داسې شوه هغه چې په زړۀ کښې اطمينان نه لرې

## نعتِ مصطفٰي ﷺ

راځے چې څو ټول دَ نبي اخرزمان ﷺ کلي ته
ديدن دَ پاره څو دَ خپل حسين جانان ﷺ کلي ته
دا سترګې ډيرې دَ ديدن ئې تږې تږې نن دي
دا دَ ليدلو دَ وطن ئې تږې تږې نن دي
انتظار څه ته کوے ، څو دَ خوږ انسان کلي ته
راځے چې څو ټول دَ نبي اخرزمان ﷺ کلي ته
نور راته نه کيږي ملګرو ! انتظار دلته کښې
دا زړۀ مې ډير وريږي نن دے بيقرار دلته کښې
طلب ډير ډير لرې دا ځي ډير عاليشان کلي ته
راځے چې څو ټول دَ نبي اخرزمان ﷺ کلي ته
را باندې مه کوے نور نور نن انتظار ملګرو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلي ته تلل غواړي د دوست د رب غفار ملګرو!

سکون د پاره ځو راځــې د اطمینان کلي ته

راځــې چي ځو ټول د نبي اخرزمان ﷺ کلي ته

په دي طلب کښي روځي شپي احمده! ستا تیریږي

وطن د یار دُنیا کښي دلته کښي له چا هیریږي

راځــې چي ځو احمده! هغي ګلستان کلي ته

راځــې چي ځو ټول د نبي اخرزمان ﷺ کلي ته

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تاته کۀ خپل ځان خوږ دے

ماته خپل جانان ﷺ خوږ دے

تاته کۀ ګین خوږ دے

ماته ئي بیان خوږ دے

زړۀ کښي مي مدام اُوسي

داسي راته ګران خوږ دے

تاته کۀ هر در خوږ دے

ماته ئي مکان خوږ دے

ما احمد ته پټ خوږ

هم راته عیان خوږ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ حضور ﷺ خواته مې کور وے
په دیدن مبزړهٔ مې ټکور وے
راسره په خنګ کښې پلار وے
راسره بل خواته مور وے
یو طرف ته مې بچي وے
بل طرف ته مې ورور خور وے
خپل خپلوان راسره ټول وے
څوك پیاده وے او څوك سور وے
سلامونه تل په ژبه
دا عمل زمونږ تر ګور وے
دا حسین ښکلي منظر وے
دَ نیکو کولو زور وے
درودونه وے احمده!
په سکون سره نور نور وے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ خپل آقا ﷺ کوه هرخواته تذکره په مینه
تل په دُنیا کوه هرخواته تذکره په مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ستا دَ روح دَ اطمينان دا ذريعه اُوګرځي
چې ستا دَ روح دَ اطمينان دا وسيله اُوګرځي
خوږه وينا کوه هر خواته تذکره په مينه
دَ خپل آقا ﷺ کوه هر خواته تذکره په مينه
چې ستا دَ پاره وسيله شي دَ نجات دلته کښې
چې ستا دَ پاره ذريعه شي دَ نجات دلته کښې
داسې هر خوا کوه هر خواته تذکره په مينه
دَ خپل آقا ﷺ کوه هر خواته تذکره په مينه
ستا دَ نيکو دا ذريعه ده کۀ پوهيږې دلته
ستا دَ نيکو ښه وسيله ده کۀ پوهيږې دلته
په ژوند بيا بيا کوه هر خواته تذکره په مينه
دَ خپل آقا ﷺ کوه هر خواته تذکره په مينه
دا ښه عمل دے په دُنيا کښې دَ رحمت ذريعه
دا ښۀ عمل دے اے احمده! دَ عزت ذريعه
صفا صفا کوه هر خواته تذکره په مينه
دَ خپل آقا ﷺ کوه هر خواته تذکره په مينه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

حُسن کښې دا تول جهان زما جانان ﷺ ته نۀ رسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو بشر هم دلته کښي نبی سلطان ﷺ ته نۀ رسی

حُسن ئي ډير ډير دے عقيده لرم دُنيا کښي دا
حُسن ئي ډير ډير دے عقيده لرم هرخوا کښي دا
دا مي عقيده ده ښکلی قدردان ته نۀ رسی
يو بشر هم دلته کښي نبی سلطان ﷺ ته نۀ رسی

حسن ئي ډير ډير دَ پاك وطن ، دَ پاك مكان منم
زۀ ئي پاك وطن له هر وطن نه عاليشان نه منم
يو مكان په حُسن کښي دَ دُوی مكان ته نۀ رسی
يو بشر هم دلته کښي نبی سلطان ﷺ ته نۀ رسی

ځومره چي دا دلته کښي ګلونه دَ ښُکلا دی تول
ځومره چي دا دلته کښي ګلونه ښه بالا دی تول
حُسن کښي يو ګل هم هغي مهربان ته نۀ رسی
يو بشر هم دلته کښي نبی سلطان ﷺ ته نۀ رسی

ځومره چي راغلی آسمانی حق کتابونه دی
دا مي عقيده ده قيمتی دی سَم لعلونه دی
دا مي عقيده ده يو کتاب قرآن ته نۀ رسی
يو بشر هم دلته کښي نبی سلطان ﷺ ته نۀ رسی

هر ادائي ښکلي عقيده مي دغه کلکه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا احمده! دغه عقيده صفا بې شکه ده

يو بيان هم دلته د حضور ﷺ بيان ته نۀ رسي

يو بشر هم دلته کښې نبي سلطان ﷺ ته نۀ رسي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نوره د چا سره مينه لازم ده؟

د خپل آقا ﷺ سره مينه لازم ده

که د نجات څه ذريعه لټوې

د مصطفیٰ ﷺ سره مينه لازم ده

که خپل منزل ته رسيدل غواړې څوك

خپل رهنما سره مينه لازم ده

له مصطفیٰ ﷺ ميني نه مخکښې مخکښې

د خپل مولا سره مينه لازم ده

که پېژندل د حقيقت غواړې څوك

خير الوریٰ ﷺ سره مينه لازم ده

رښا که څۀ غواړې په بدن د سنت

د مجتبیٰ ﷺ سره مينه لازم ده

د نصيحت که وي طالب څوك دلته

د حق ويناسره مينه لازم ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



غــواړي کـــه دلتـــه خــوك رښــا احــمــده!
نــو نـــوررښـــا ســـره مـيـــنـــه لازم ده

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښـکـلـي عـربي جانان ﷺ، ښکلي مدني جانان ﷺ
نيشتـه ډول عـالـم کښـي داسي صفتي جـانان ﷺ

زلـفـي دَواليـل ئـي تـوري ښـكـلـي ښـكـلـي دي
ښـــه پـــه ښـــه انــداز قـــرآن رابـلـلـــي دي
والـضـحـیٰ رخســار هـم دَ هـاشـمـي جـانـان ﷺ
ښـکـلـي عـربي جـانان ﷺ، ښکلي مدني جانان ﷺ

اُوسـی مـي پـه زړه کښي ... دا حـقـيـقي مينـه ده
اُوسـی مـي پـه زړه کښـي .. دا قـدرتـي ميـنـه ده
تـلـزمـونـږ دَډولـو يو دے حـقـيـقي جـانـان ﷺ
ښـکـلـي عـربي جـانان ﷺ، ښکلي مدني جانان ﷺ

خـوښ دَډول عـرب دے، خوښ دَ ډول عـجـم هـم
عشـق کښـي مبتـلا ئـي دلتـه ډول عـالَـم هـم
خوښ زمـا پـه جـار دے هـغـه قـدرتي جـانـان ﷺ
ښـکـلـي عـربي جـانان ﷺ، ښکلي مدني جانان ﷺ

دوســـت دَرب مـــولا دے .. دلتـــه پـــه دُنـيـا هـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلي دے بالا دے ...دلته په هرخوا هم

یاد په محمد ﷺ دے هغه خوږ نبي جانان ﷺ

ښکلي عربي جانان ﷺ، ښکلي مدني جانان ﷺ

دا اُمت غمخوار دے ...هغه په هرخوا هم

دَ اُمت سردار دے ...هغه په هرخوا هم

دَ کوثر دَ جام هغه یو ساقي جانان ﷺ

ښکلي عربي جانان ﷺ، ښکلي مدني جانان ﷺ

نبوت ورسره دلته هم تمام شو

ستا احمده! دلته اخیري پیغام شو

په محشر زمونږه یَو سفارشي جانان ﷺ

ښکلي عربي جانان ﷺ، ښکلي مدني جانان ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څنګه چې ایمان غواړم

در دَ خوږ جانان ﷺ غواړم

غواړم اُمتي دَ حضور ﷺ

در دَ خوږ نبي ﷺ دَ حضور ﷺ

قُرب دَ مهربان ﷺ غواړم

در دَ خوږ جانان ﷺ غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



غــــوا ړم ورســـــــره تــــل ســــکــــون
غــــوا ړم ورســـــــره تــــل ژونــــدون
در دَ عـــــــــالیشـــــــان غـــــوا ړم
در دَ خــــوږ جــــــانـــــان ﷺ غــــوا ړم
غــــوا ړم هــــغــــه در خــــوشبــــوئــــی
غــــوا ړم هــــر ســــحــــر خــــوشبــــوئــــی
نُــــور دَ ټــــول جهــــان غـــــوا ړم
در دَ خــــوږ جــــــانـــــان ﷺ غــــوا ړم
دا مـــــــي تــــمــــنـــــــا ده مــــدام
ستــــا احــــمــــده! ښــــکــــلــــي کــــلام
کــــــــــور دَ زړه ودان غـــــــــــوا ړم
در دَ خــــوږ جــــــانـــــان ﷺ غــــوا ړم

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

در دَ مــــدیــــنــــي ښــــکــــلــــي ښــــکــــلــــي دے
دا مــــي دَ جــــانــــان ﷺ څــــکــــه کــــلــــي دے
ورتــــه نــــظــــر اُوکــــړه حسیــــن هــــغــــه
در ښــــکــــلــــي اعــــلا بهتــــریــــن هــــغــــه
هــــر څــــوك پــــه ادب غــــلــــي غــــلــــي دے

دا مي دَ جانان ﷺ څکه کلي دے

دلته کښې اصحابؓ هم آرام کوی

ستوری دَ هر باب هم آرام کوی

لوئي مقام هر چائي منلي دے

دا مي دَ جانان ﷺ څکه کلي دے

خوښ دَ اوليا دَ نيکانو دے

خوښ دَ علماء طالبانو دے

زړۀ مي ورسره لګيدلي دے

دا مي دَ جانان ﷺ څکه کلي دے

نه صبريږی زړۀ دَ هغي نه بيا

نه صبريږی زړۀ بيا دَ هغي چا

چا چي يو واري هم ليدلي دے

دا مي دَ جانان ﷺ څکه کلي دے

داسي اُوچت شان په دُنيا الری

ښۀ حسين بيان په دُنيا الری

زړۀ کښې مسلمان تل ساتلي دے

دا مي دَ جانان ﷺ څکه کلي دے

زړۀ کښې دَ احمد تل مدام به وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورســـــره هـــــرخـــوا احتـــرام بـــــــه وي
خــوش نـصيــب دے څــوك چــي ورغـلـــي دے
دا مـــي دَ جـــانـــان ﷺ څـــکـــه کـلـــي دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ

له هر وطن نه ډير زيات ښکلي دَ جانان ﷺ وطن دے
دَ ډيـر لـوئـي شـان وطـن دے ، پـه اللّٰه ګران وطن دے
څـکـه هـجـرت ورتـه حضور ﷺ له خپله کوره کړے
پـه تـکـلـيـفـونـو دوی هـجـرت زمـا اے وروره ! کړے
خــوښ دَ مــولا وو ، څـکـه دا ډيـر قـدردان وطـن دے
له هر وطن نه ډير زيات ښکلي دَ جانان ﷺ وطن دے
ورلـــه عـزت خـــالـق مـالك پــه هـر مـقـام ورکړے
ورلـــه عـــزت خـــالـق مـالك پوره تـمـام ورکـړے
داسي عـظـيـم صـفـت دُنـيـا کـښي عاليشان وطن دے
له هر وطن نه ډير زيات ښکلي دَ جانان ﷺ وطن دے
پـه کـښــي حـضـور ﷺ پـه کـښي اصـحاب دَ پـيغمبر ﷺ اُوسـيـږي
ستــوري پـــه کـښــي دَ هــر مـقـام دَ لـر او بـر اُوسـيـږي
خـوشـبـو خوشبو حـسـيـن ښـکـلي ددي جهان وطن دے
له هر وطن نه ډير زيات ښکلي دَ جانان ﷺ وطن دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه درنــه ســتــرګـــه ورتــه ګـوري هــر بشــر احــمـده!

پــه درنــه ســتــرګـــه ورتــه ګـوري لــر او بــر احــمـده!

ځــکـــه دَ مـيــنـي مـحـبـت دا دَ امــان وطــن دے

له هر وطن نه دير زيات ښکلي دَ جانان ﷺ وطن دے

تمت بحمد الله تعالىٰ وعونه

وصلى الله تعالىٰ علىٰ خير خلقه

محمد واله واصحابه اجمعين

ومن تبعهم باحسان الى يوم الدين. آمين

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**